مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۱/۰۶

# په لیمو کې ناسته مینه

څه خوږه شان ولوله شي
او پر زړه مي راخپره شي

پورته باز  وي یا شاهین
پر ګوګل نرمه څپه شي

چي را وامي وړي نظر کي
نړی ګرده ښایسته شي

غم جارو مي شي له ذهن
ستا خوږ یاد هره شیبه شي

لولکی دنیا کرم ځنګ ته
مست سیندونه دې اینه شي

دا خپل غرونه دې پالینه
بریدګر ماته پینه شي

چي تلک دا ستا پر لار ږدي
دیو، موردار پیاله چپه شي

ژوند مو تول په کي راتول دی
پرق وهي، رانه لیمه شي

تیاري تېښته کوي درومي
د سهار ورمه خپره شي

ستا ورمي چي سیلی راوړي
هسک لمنه سپینه سره شي

ته زموږ د ژوند ښکلا يې
ښایستونه مو  پوره شي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

سره غاټول سپیره بیدیا کې
شي څلاند د شپې ډیوه شي

ږمونږ خاورې جادوګرې
هر زړه تاته په ستنه شي

نوی ژوند په پیلامه دی
د یووالي تلوسه شي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ